**ليکونکی** : پاتریک کوکبرن(Patrick Cockburn)
**منبع او دخپریدو نیټه** : کونترپانچ«21-11-201»
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسام «مل» .

----------------------------------------------------------------

# په عراق او ا فغا نستا ن کي د جنګي جرمونو راپورونه ددواړو جنګونو ناکامي په ګوته کوي

**Reports of war crimes in Iraq and Afghanistan Highlight the failures of both war**




دعکس منبع RAWA. CC BY

په عراق او ا فغا نستا ن کي د شکنجی او د وژنی د تحقيقا تو يا د څيړنو د درولو لپاره دبريتانيا دحکومت اودپوځ له خوا وړاند يز په انګلستان کي د يو ی پراخي غوښتنی له وروستی برخي څخه ښکا ري چي د دي ناکا مي جګړي هيرول غواړي ، دانګلستان دپوځ پيوستون يا دهغه را ښکيل پرعراق باندي دامريکي په حمله کي په معمول توګه سره د ا

ا نګلستا ن لمړي وزير **توني بلير**(Tony Blair) اصلي مقصر دي . خو په دغه ناهيلى وضيعت کي لږه د لچسپي شتون لري اوهغه دا چي بريتا نوى عسکر له بريد نه وروسته کوم چي په لمړي ځل په عراق کى اوبيا درى کا له وروسته دا فغا نستا ن په هلمند ولايت کي په جګړو راښکيل شو يو روښا نه حقيقت دي .

دا جوته دى چي په هره يوه پيښه يا قضيه کي غلط محا سبه کول يا دغلطو حسا بونود پيټو د روندول يا دهغه ځواکمن کول په شک يا بد ګما نى کى نه وي په هغه وخت کي دبريتانيا سفيرپه کا بل کي ښاغلي **شيرارد کاوپر کوليس**(Sherard Cowper Coles) پخپل يادونو کي ليکلي وو: چي په تيرو ( ديرشو) کلونو کي دانګلستا ن دبا ند نيو چا رو دوزارت له خوا ترټولو خرابه غلطى او اشتباه پر عراق با ندى دامريکي سره په حمله کى دانګلستان دپوځ شراکت وه اوهم دبريتا نيا دهغو هڅو نه ملاتړ وه چي په کا ل (2006) دهلمند داشغا ل لپاره دير غلګر امريکايي پوځ سره په ګډه راښکيل شو.

دا ادعا يا تورکوم چي پوځيان جنګي جرمونه يي کړي وو د دوشنبي ورځ په ماښام مها ل د (بى بى سى ) پنا روما برنامى کي په ګوته کړل شو چي انګلستا ن دخپل ناسازګار سابقي په لرلو سره په دى شخړه کي دهغه ښکيلتيا مړاوى او غمجنونکي دي .

د مد ني بين المللى حقونود کميټي په بين المللى امورو کي دهغه کميټى قضا يى څا نګه ويلي دي چي دراخيړل شوي اسنا دو اودمدارکو له مخي چي با ندى ته لاره ايستلي دي د نوموړى ادعا ګا نو په اړه څيړنه را پيل شوى دي اوهغه داچي ددفاع وزارت ويلي دي چي دغه تورونه يا ادعا ګا ني له سره بى بنسته دي .

دعراق له اشغا ل څخه دانګليس پوځيان دعراق په سهيل کي عمد تاً د بصرى په د ننه او شاوخوا کي پا تنى (ما ند ګا ر) شول اوهغه هم ظاهراً په دي تصور چي دغه سيمه نظرنور سنى عرب نشين برخو څخه نسبتاً ارام ولايت دي يعنى هغه سيمه چي خلک يى د **صدام حسين** پلويان دي يا دهغه څخه ملاتړ کول .

په بيړه سره څرګند شو اوهغه داچي که دعراق د سهيلي برخي شيعه ګان خوشحا له شو چي د« **صدام حسين** » له منګلو او له شره څخه خلاصه شو اما هغوى دا نيت نه درلود اوياداچي نه غوښتل چي د انګليس ترولکي اواشغا ل لاندي پريوځي کوم چي ددغه موضوع نا وړه ښبى اونښا ني دجون ميا شت په ( 24 ) نيټه کا ل ( 2003 ) کى ترسترګو شواوهغه دا چي د بريتا نيا د شاهى نظا م **شپږ پوليسا ن** د **ماجار الکبير**(Majar Alkabir) ښار ته نژدى په يو بريد کي ووژل شول .

په هرصورت دوى خپل ژوند دلاسه ورکړل ، دوى په همدغه مهال کي محلى پوليسو ته

د مشورې ورکولو په حا ل کې وه چې دبریتانیا پارا تروپ دهمدی ښا ر په یوه بله اړخ یا برخه کې تهاجمی ګزمی کولې اویو دبل سره د ډ زی تبا د له وکړل چې د هغه په ترڅ کې یوشمیرځا یی خلک خپل ژوند دلاسه ورکړل .

د ا نګلیس د شاهی دولت پولیس ډیر زر وروسته د ا نتقا م په برید کې ووژل شول.

دي پیښې په عرا ق کې د بریتا نیا دقوتونو ځواک ته د ضد وژونکي لقب ورکړ. ددوی شمیر اووضیعت د یوداسې هیواد لپا ره منا سب وو ، چیرې چې ډیری نفوس یې ملګری اودوستان وو مګر که چیری مقابل لوري ریښتیني وګڼي لکه چې په یقیني بڼی سره ریښتیا هم وه. نو په هغه صورت کې سرتیري له اتکل شوي شمیر څخه لازیات دخطر په معرض کې راتلل یا د خطر سره مخا مخ کید ل . بریتا نیا وی افسران د خپل تخصص دلرلو په ادعا سره په دې ډول جنګونو کې یعنی په تا ریځی لحا ظ د ا نګلیس دعسکرو د تجربی په لرلوسره ، هغوی په مالایا (Malaya) اوشما لی آیرلند کې خپل امریکایي سیالان په قهرول یاچې هغوی تنبه کول . په بصره کې یو کپتان وروسته وویل : ما خپلو لوړپوړو چاروا کو ته دبریا پرته داتشریح کولو ته دوام ورکړ چې مونږ په ملایا اوشما لی آیرلند کې سیمه ایز دوستان اومتحدین درلودل ، په داسې حا ل کې چې مونږ هلته هیڅ یو متحد نه لرل .

د بریتا نیا د دریځ کمزورتیا په تفصیل سره د ښاغلي **جلکول** (Chilcol) په ګذارش یا را پور کې ا فشا شو ، مګر د هغه موند نې د (تمبا کو ټوپک = smoking Gun) دموند لو سره د مید یا لیوالتیا پواسطه سره پوښل شوی وه چې د بریکسټ (Brexit) رفرندم دشاک پا یلی سره د **تونی بیلیر** جرم ثا بتوی چې په عین وخت کې نیول شوی وو .

دغه راپور څرګندوی چې په کا ل (2007) په بصره کې د بریتا نوی ځواکونو نظرونه له پا مه غورځید لي وه اود دسپکاوی اودتحقیر وړ وه چې انګلستان داسی یو مقام اویا موقف ته رسید لي چې پکې دملیشي ډلی (مهدی پوځ = Mahdi Army) سره تړون شوی وو چې په فعاله توګه دانګلستان ځواکونو په نښه کول – و- موجود تر ټولو غوره انتخاب په پام کې ونیول شو.

د**چیلکول** په وینا د کا ل (2003) اوپه کا ل (2009) کې دانګلستان د سرتیرو د بشپړ وتلو ترمینځ واټن کې د ا نګلیس یوه دوامداره استراتیژی دا وه چې دګمارل شوی ځواکونو کچه را ټیټه کړي پرته له هغه چې دامریکی دمتحده ایالاتو له لارښونو اوهدایاتو څخه سرغړونه وکړي نوهغه څه چې انګلستان په دې برخه کې څه باید وکړي پریکړه شو چې بریتانیا دی باید خپل یوشمیر سرتیری له سره افغانستان ته ولیږي ، انګلیسا نو داسی تصور کول چې

ددوی سرتیری پە ا فغا نستا ن کي مصون به پا تي شی نو کله چي ا نکلیسی سرتیری ا فغا نستا ن ته ورسید ل هغه مها ل وه چي طا لبا نود گوریلای جنگونو لپاره له سره تیاری نیول نو حالات دی ځای ته ورسید ل چي (405) بریتا نیا وی سرتیری پە راتلونکو کلونو کي هلته خپل ژوند دلاسه ورکړل .

هغه څوک چي ممکن په دي جنجا لونو کی جنګی جرمونه ترسره کړي وی دهغه په مورد کي څیړنی شوی حتی که دوی محا کمه شوی هم نه وی ، نودابه ښه وي که چیري هغه کسا ن چی د دی بربادی د نظا می بریدونو مسول اوسی نو هغوی دخپل کړنو مسول شمیرل کیږي یعنی چی هغه کسا ن باید مسول وګڼل شي .

## د مقالي دلیکونکی په اړه :

**پیټرک کا کبرن د اسلامي دولت د راڅرګند بډ و لیکوال دی: داعش او د نوي سني انقلاب.**

**------------------------- پە درنا وی (22-11-2019)**